# كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ أَبَى

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ أَبَى»، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، وَمَنْ يَأْبَى؟ قَالَ: «مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الْجَنَّةَ، وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى». "زما ټول امتيان به جنت ته داخليږي مګر هغه څوک چې انکار وکړي " هغوی وويل: اې د الله رسوله! هغه څوک دی چې انکار به کوي؟ ويې فرماييل: چا چې زما اطاعت وکړ هغه به جنت ته داخل شي او چا چې زما نافرماني وکړه نو بېشکه چې هغه انکار کړی دی».

[صحيح] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې ټول امت به يې جنت ته ننوځي پرته له هغه چا چې ډډه (ترې) وکړي! نو صحابه و - رضي الله عنهم - وفرمايل: او څوک دی چې ( جنت ته له ننوتلو څخه به ) ډډه کوي اې د الله رسوله؟! نو هغه صلی الله عليه وسلم ځواب ورکړ چې: چا چې غاړه کېښوده، پيروي يې وکړه او د رسول الله صلی الله عليه وسلم اطاعت يې وکړ جنت ته به داخل شي، او هغه چا چې سرغړونه وکړه او شريعت ته يې غاړه کې نښوده، نو هغه په خپلو بدو کړنو سره جنت ته له ننوتلو څخه ډډه کړې ده.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4947

النجـاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee